کرانو زده کوونکو !

د حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّم لاندې (حدیثونه) په خپلو کتابچو کښې ولیکئ، او د ځکې په دره (تخته) یې څوکرتې مشق او تمرین کړئ :

۱- د قیامت په ورځ ترټولو درونده شی د عمل په تله کښې ښه خوی دی .

۲- د پوره ایمان خاوند هغه څوک دی چې اخلاق یې ترټولو ښه وي .

بناغلی ښوونکی دې نوري لنډې محیطي قصې د اخلاقو په برخه کښې زده کوونکو ته بیان کړي .

بناغلی ښوونکی دې د شاګردانو څخه لاندې پوښتنې وکړي !

۱- د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّم (خبرې، په څه نوم سره یاد یږي ؟

۲- د کلي اوسیدونکي ولې د صادق څخه خوښ دي ؟

۳- یو شاګرد ته وظیفه ورکړي چې د خپلو ټولګیوالو څخه لاندې پوښتنې وکړي :

الف :- ته په ټولګي کښې د چا سره ملګرتیا لرې ؟

ب :- ولې دې هغه ټولګیوال خوښ یږي، او هغه بل دې نه خوښ یږي ؟

علم

زمونږ د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وينا ده چې : « د علم زده کړه په هر مسلمان ناريښه او ښځې فرض ده » .

بې له علمه د الله جَلَّ جَلَالُهُ ، پېژندل هم ګران دي .

علم ، پوهه ، د انسان قدر لوړوي ، او نوم يې ژوندی ساتي .

وايي چې يوه سړي د وخت امير ته وويل : يوه ونړ ده چې څوک يې ميوه وخوري ، تل ژوندی وي او نه مري .

دا خبره چې د وخت امير واوريده نو هرې خوا ته يې خلک ولېږل چې دا ونړ پيدا کړي . دوې پلټونکي د يو عالم او تجربه کار سړي سره مخامخ شول ، او پوښتنه يې ترې وکړه چې :

مونږ خپل امیر په داسې یوې وینې پسې رالېږلی یو ، دا به څنګه پیدا کړو ؟

عالم ورته وویل : امیر ته ووایئ چې دا د علم وینه ده . د علم د وینې مېوه چې هرچا وخوړه که په خپله مړ هم شي خو نوم یې نه مري .

ربنستیا ده چې څوک علم زده کړي ، او نورو ته یې ور وښیئ ، نو که هغه مړ هم شي خو نوم یې تل ژوندی وی ، او هر څوک یې په ادب نامه یادوي .

نو مونږ باید د علم په زده کړه کښې کوښښ وکړو ، او زیار وباسو .

لغات	=	معنیٰ
علم	=	پوهه

لغات	=	معنیٰ
قدر	=	عزت
زیار	=	زحمت

گرانو زده کوونکو !

۱- د حضرت محمّد صَلَّی اللّٰه علیه وآلِهٖ وَسَلَّمَ لاندې حدیث پښځ ځلې پر توره پره (دلیکځ په تخته ، مشق اوتمرین کړئ ، او بیایې په خپلو کتابچوکښې ولیکئ .

(د علم طلب (زده کړه ، په هرمسلمان نارینه او مسلمانې ښځې فرض دی .

۲- لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ :

الف - د (، زده کړه په هرمسلمان نارینه او مسلمانې ښځې فرض ده .

ب - علم د انسان قدر لوړوي ، او نوم یې (، ساتي .

ج - موږ باید د علم په زده کړه کښې (، وکړو ، اوزیار وباسو .

د - دا خبره چې د وخت (، واوریده ، نو هرلوري ته یې خلک ولیږل .

د خبرو ادبونه

۱- په یوه غونډه کښې چې څوک خبرې کوي، تر آخره - ورته غوږ کیږدئ .

۲- د خبرو په منځ کښې بې ځایه ګډون مه کوئ ، او د چا خبرې مه پرې کوئ .

۳- په غونډه کښې د خبرو له پاره خپل وار ته ګورئ .

۴- په خبرو کښې د موضوع نه بهر مه وځئ .

۵- خبرې په پسته او خوږه ژبه کوئ ، په لوړ آواز مه غږیږئ .

۶- که چا درنه پوښتنه وکړه ، ځواب په ډېر ادب ورکوئ، او که تاسې له چا نه پوښتنه کوئ ، هغه هم باید په ډېر ادب وي.

۷- ګرانو زده کوونکو! تل د خپلو ښوونکو او مشرانو خبرو ته غوږ ږدئ . څوک چې د خپلو ښوونکو درسونو او د مشرانو خبرو ته غوږ ږدي . په خپل ژوند کښې بریالي کېږي ، او هوسا او آرام ژوند تېروي .

ګرانو زده کوونکو !

۱- لاندې خالی ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ

الف - په غونډه کښې د خبرو کولو ..... مراعات کړئ .

ب - کله چې د چا سره خبرې کوئ ، په ډېره ..... سره خبرې کوئ

ج - تل د خپلو ..... او ..... خبرو ته غوږ ږدئ .

۲- پورته درس پخپلو کتابچو کښې ولیکئ ، او په خپل ژوند نه کښې یې عملي کړئ .

زمونږ مدرسه

ډلي ډلي ماشومان — د ښوونځي په لور روان
هر يو خپل خپل کتابونه — دي نيولي خندک کښې خوان
چې سهارله خو به پاڅي — دا ښايسته ښايسته کلان
وايي موږې هله ژر کړه — راکړه چای چې شم روان
هسې نه چې شي ناوخته — شي خفه به استادان
موږې ډېره شي خوشحاله — د ماشوم خوی په بيان
خدای دې لوی کړه راته زويه — شه خفه دې د ښمنان
بيا بهر له کوره وځي — کړي راجمع خپل دوستان
ځي په جمع سره ټول — لکه ستوری د آسمان

شي په کار به موسبا تر　　دا واړه واړه طوطيان
پاس آسمان ته به تکل کړي　　دوی به وي ساينس دانان

تمرين

۱- دا نظم په کتابچو کښی ويلکئ . اوښيادوي يادکړئ

۲- له لاندې لغتونو څخه جملې جوړې کړئ !

ماشوم ، استاد ، مور ، ټول ، آسمان -

بناغلی ښوونکی د پې د درس هر بيت معنی کړي او د مدرسی ارزښت او اهميت دې زده کوونکو ته د هغوئ د سويې سره برابر تشريح کړي .

نصیحتونه

۱- پښځه وخته لمونځ په جماعت سره کوئ

۲- تل ریښتا وایئ، اوله دروغو څخه ځان ساتئ .

۳- د مور و پلار ژوند غنیمت وګڼئ، او د هغوئ احترام کوئ .

۴- د بې وزلو او غریبانو سره مرسته کوئ .

۵- اُستاذ له مور و پلاره کم مه ګڼئ .

۶- په چا پسې بد مه وایئ .

۷- د نن کار سبا ته مه پریږدئ .

۸ - که خوی موښه وي ، دوستان به موډ پر وي .

ښوونکی دې پورتنۍ نصیحتونه په ساده ژبه نرده کوونکو ته بیان کړي .

بنه هلك

يو هلك په بازار کښې قلمونه خرڅول . يو سړی
راغی پنځه دانې قلمونه يې ځنې واخستل .
د اخستونکي پام نه ؤ د پنځو روپو پرځای يې لس روپې
ورکړې ، او ځنې روان شو .

هلک چې پوه شو ، اخستونکي ورته د پنځو روپو پرځای
لس روپې ورکړې وې ، ورپسې يې منډې کړې او
ورته يې وويل : وروره !

دا لس ګون دې درواخله ، ما ته پنځه روپې راکړه
زما پنځه روپې کېږي . اخستونکی د دغه هلک له مسلمانۍ
اوانصاف څخه ډېر خوشحاله شواوورته يې وويل : شاباس !

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

حمد

د اللّٰهؒ ډېر قدرتونه بې حسابه صفتونه
څمکه، بوټي، کاڼي، غرونه لمر، سپوږمۍ، ستوري بحرونه
رڼک په رڼک يې انسانان دي په هوا کښې يې مرغان دي
تودي، يخي هوا کاڼې ډول ډول فضا کاڼې
څه چې کوږئ په دنيا کښې يا يې کوږئ شاوخوا کښې
پيدا کړي پاک اللّٰهؒ دي چې مشغول يې په ثنا دي
د هرڅه روزي رسان دی رب پالونکی د جهان دی
پاک رسولﷺ يې پيغمبر دی په نبيانو معتبر دی
مسلمان د خداؒ بنده يم ورته پروت تل په سجده يم
رحم وکړی ذوالجلاله
غنی خدايه لايزاله

ستاله صداقت او انصاف څخه د برخوشحاله شوم ،
الله جَلَّ جَلَالُهُ دې خير درکړي .

لغات		معنیٰ
انصاف	=	(عدل) اوپه پښتوکښې ورته (نياو) اوهيڅکله هم وايي .
صداقت	=	ريښتياويل

ګرانو زده کوونکو ! لاندې کلمات اوجملې څوځلې د لېک پرتخته مشق کړئ ، اوبيا يې په خپلوکتابچوکښې په ښه خط وليکئ :
هلک ، قلمونه ، فکر ، شاباس ، روپۍ ، انصاف



پرحیوانا ټورحمرکول

پرون زه او نرلمی د خپل پلار سره په یوه ګاډی کښی ناست وو، دګاډی آس ډپرډنګراو ژوبل ؤ. ورو ورو ته ، ګاډی وان به چې پرمتروکه وواهـه نو لږځه به تیز شو.

نرلمي ګاډیوان ته وویل :

دا آس دې ډېر کمزوری دی ، ملا يې هم زخمي ده ، اوته يې نور هم وهې ، دا هم زمونږ پر څېرځان لري ، دومره زياتی پرې مه کوه .

که هره ورځ يې همدومره ووهې ، بيخي به له پښو ولوېږي ، کار به دې هم په ټپه ودرېږي اودخدای (جل جلاله) حوالې به هم در په غاړه وي .

بنه خوراک ورکړه چې تيارشي ، بيايې په کاډې پورې وتړه . که زړه سوی دې وکړه ، هم به دې ورځ بنه شي ، اوهم به د خدای (جل جلاله) له حوالې خلاص يې .

زمونږ په دين کښې پر څارويود زړه سوی ډېر ټينګار شوی دی .

لغات	=	معنیٰ
رحم	=	مهرباني ، زړه سوی
ډنګر	=	خوار
ژوبل	=	زخمي ، ټپي
چاغ	=	غوښن ، تیار

ګرانو زده کوونکو !

۱- ستاسو په ځای کښې د کارلپاره کوم حیوانات استعمالیږي نومونه یې واخلئ ؟ .

۲- تاسو په کورکښې کوم کورني حیوانات لرئ چې باروړي ؟

۳- ولې حیوانات ساتئ ؟

۴- تاسو چې د کور څخه مدرسې ته ځئ ، د سپرلې د لاندې شیانو څخه کوم یو استعمالوئ ؟ !

ګاډئ ، موټر ، آس ، خر . بائیسکل ، په خپلو پښو .

۷- نورکوم وسایل پیژنئ چې د هغو په واسطه انسان له یو ځای څخه بل ځای ته ځي ؟

شاګردانو دې د دې درس مطلب لومړی پخپله، او بیا دې پر نورو ګډونکو باندې تکرار کړي .

روغتیاساتنه

د اسد تره د بنارپه یوه روغتون کښې ډاکټر دی، د جُمعې په ورځ کلي ته راغلی وُ، اسد یې ولید چې پښې یېله کړځېده، له ځان سره یې کښېناوه، اوورته یې وویل: زویه! پښو ته دې وګوره څومره چټلې دي، اوځنګ بدې بنکاري.

پوندې دې ډېرو خیرو توړې کړي، د چاودونو یې شمېر نشته، اوترلا اوس هم لوڅې پښې کړئ.

ګوره بچیه! د انسان پوستکی واړه واړه سوري لري چې د بدن نه پرې خوله راوځي. که بدن وخت په وخت پاک نه شي، دغه سوري بندېږي، اوهغه خولې

چې له بدن نه باید راووځي ، په بدن کښې د ننه پاتې کېږي . او آخر د ډول ډول ناروغیو سبب شي .

بیا یې اسد ته وویل : تا په هنداره (آئینه) کښې خپل رنګ ته کتلي چې څنګه ژیړدی ؟

دا د همدې له امله دی چې ته پښې یېله کړځې ، خیرو دې بدن هم کمزوری کړی دی . که پاک وکړځې او همیشه غُسل وکړې ، پښې یېله ونه کړځې ، وښتان پاک وساتې د سراو بدن د پوستکي سوري به دې نه بندېږي ، بدن به دې د خولو بری نه کوي ، څوک به در نه کړکه نه کوي ، دماغ به دې همیشه تازه وي ، درسونه به دې ښه زده کېږي ، اوهمدا سې یې ورته د روغتیا ساتنې ډېرې ښېګڼې وښودې .

اسد د خپل تره ټولې خبرې د زړه پر غوږو واوړېدې له واړه پاځېد ، ځان يې ښه پاک کړ ، څپلۍ يې په پښو کړې ، له تره سره يې وعده وکړه چې بيا به پښې يېله او خيرن نه کړئ .

تره يې هم ترې خوشاله شو او خلکو ته هم ښه ښکاري .

ګرانو زده کوونکو !

لاندې تش ځايونه دک کړئ !

۱- د بدن او کالو ..... دروغتیا لپاره خورا ضروري دي .

۲- داسد تره ..... دی .

۳- هرځوک چې په ..... کړې مېوې خوړې په کولمو کښې يې ..... پيدا کېږي .

د مرغی ځاله

یوه ورځ حضرت رسول اکرم (ﷺ) په یو ځای کښې د خپلو ملګرو سره ناست ؤ چې یوې مرغۍ ته یې پام شو. مرغۍ ډیره وارخطا اخوا دې خوا الوتله.

پیغمبر ﷺ له خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چې دا مرغۍ ولې ازارکړې ده؟

یو سړي وویل چې: ما د دې مرغۍ له ځالې څخه هګۍ راښکته کړې دي. حضرت پیغمبر ﷺ ورته وویل: "لاړشه دا هګۍ بېرته د مرغۍ په ځاله کښې کښېږده" هغه سړی د رسول الله ﷺ دامر سره سم یاځېد

او هکۍ يې د مرغۍ په ځاله کښې کښېښودې .

مرغۍ چې خپلې هکۍ په ځاله کښې ولیدې ، ډېره خوشحاله شوه ، او په خپله ځاله کښې په آرام کښېناسته .

ګرانو زده کوونکو ! د مرغیوله ځالو څخه هکۍ مه راخلئ ، ځکه چې ډېره لوېر ګناه ده ، او ناتوانه مرغۍ ازارول ښه کار نه دی .

زده کوونکي دې لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړي :

۱- یوه ورځ ..... په یوځای کښې د خپلو ملګرو سره ناست وُ .

۲- لاړشه دا ..... ببرته د مرغۍ په ځاله کښې کښېږده .

۳- زمونږ ..... د خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه .

بناغلي ښوونکي دې د لاندې هموزنه لغاتو په شان نور لغات د زده کوونکو څخه وپوښتي : مرغۍ = هکۍ

سړی = پټی

لغات		معنیٰ
حمد	=	د الله جَلَّ جَلَالُهٗ ثنا ، صفت
حیوانات	=	څړوی
نباتات	=	ګیاوې
جمادات	=	کلک شیان
مایعات	=	نرم شیان ، اوبلن شیان
رب	=	پالونکی
شرمنده	=	خجالت

بناغلی ښوونکی دې د درس هربیت نړه کوونکوته مفصلاً تشریح کړي.

۱- پورتنۍ حمد په یاد ونړه کړئ .

۲- پورتنه حمد په خپلو کتابچو کښې ولیکئ .

د وطن مینه

دا زمونږه ګران وطن ❊ لوړ نوم او نښان لري
داد مسلمان وطن ❊ مجاهد ځوانان لري

ژوند د استقلال زمونږ لوړ نوم او اقبال زمونږ
پاک اسلامي خیال زمونږ مینه د قرآن لري

داد مسلمان وطن
مجاهد ځوانان لري

ګران وطن آزاد غواړو ❊ ټول ولس آباد غواړو
سروس ورک اونابنادغواړو دا ارمان افغان لري

داد مسلمان وطن
مجاهد ځوانان لري

مونږ په ځان باور لرو　　اسلامي زيور لرو
د بنسمن ته سينه سپر لرو　　دا فکر هر ځوان لري

دا د مسلمان وطن
مجاهد ځوانان لري

دا د "ملنګيار" اعلان ؛　　دی زمونږ عزت او شان
لوی ، واړه په ټينګ ايمان　　توره د يزدان لري

دا د مسلمان وطن
مجاهد ځوانان لري

لغات	=	معنی
استقلال	=	خپلواکي ، آزادي
زيور	=	ګاڼه
يزدان	=	الله پاک جل جلاله

ګرانو زده کوونکو ! پورتنی نظم په يادوزده کړئ ، په خپلو کتابچو کښې يې وليکئ ، او د تراني غونډې يې په ډګره ووايئ .

حضرت فاطمه رضي الله تعالى عنها

حضرت فاطمه رضي الله تعالى عنها، د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ترټولو کشره لور وه . له وړکتوب څخه د نېکو اخلاقو خاونده او پر پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم، ډېره ګرانه وه . دا له خپلې مور بي بي خديجې رضي الله عنها څخه ډېره وړه پاتې شوې وه . پالنه يې رسول الله صلى الله عليه وسلم، کوله، په خوی اوڅېره کښې د خپل پلار پشان وه .

بي بي فاطمې رضي الله تعالى عنها، په وړکتوب کښې د لمانځه او نېکو کارونو سره مينه درلوده، بې وخته اوبې ځايه لوبې يې نه کولې، د کور په کارونو کښې يې هم مرسته کوله .

بي بي فاطمه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم، دوه زوی حضرت علي کرم الله وجهه

واده وه . حضرت امام حسن رضي الله تعالى عنه او حضرت امام حسين رضي الله تعالى عنهما زامن دي .

تر واده وروسته بي بي فاطمي رضي الله تعالى عنها پر ساده ژوند تيراوه ، د كور ټول كارونه لكه : مينچن ، د كور پاكوالى كندل ، مينځل ، او داسي نور يې پخپله كول .

د بي بي فاطمې رضي الله تعالى عنها ژوند مبارك د ټولو نجونو او بنځو لپاره يوه نمونه ده . زمونږ خوښدو مينډو تر پكار دي چې خپل ژوند د بي بي فاطمي رضي الله عنها په شان په پت او عزت تير كړي

ګرانو زده كوونكو!

پورتنۍ درس په بنه خط وليكئ .

پوښتنې

۱- بي بي فاطمه رضي الله عنها د چا لور وه ؟

۲- بي بي فاطمه رضي الله عنها په چا واده وه ؟

۳- د بي بي فاطمې رضي الله عنها زامن څه نومېږي ؟

ښاغلی ښوونکی دے د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم د نورو لوڼو نومونه نرده کوونکو ته وښيئ .

کوښښ

د ژوند معنیٰ کوښښ کول دي ؛ بې کوښښه ژوند ګټه نه لري .

هر څوک کوښښ کوي ، انسانان کارکوي ، حیوانات کار کوي ، ماشینونه کارکوي .

مور مود کور په کار کښې ، اوپلار مود بزګرۍ په کارو، اود ژوند په نورو اړتیاوو بوخت دي .

هرچېرې چې کوښښ وي نو د ژوند آرامي او ودانۍ هم هلته وي . هغوئ چې زیار نه کاږي ، او کوښښ نه نه کوي ، نو په هر راز غمونو او بد بختیو اخته کېږي . خپلو ټولګیوته وګورئ ، هرڅوک چې زیات کوښښ کوي ،

او خپل درسونه په غور سره لولي ، په ټولګي کښې په ښه درجه بریالی کیږي .

زه پوهیږم چې تاسې پخپلو درسونو کښې کوښښ کوئ . که موکوښښ نه وای کړی نو به ددریم ټولګي کتابونه نه وای درکړشوي .

وګورئ ستاسې په کلي کښې هرڅوک چې زیات کوښښ کوي ، او په بزګري ، مالداری اوداسې نورو چارو کښې زیار باسي په هماغه اندازه زیات حاصل اخلي ، اوهوسا ژوند کوي ، اوهم یې لاس چا ته اوږد نه وي .

ګرانو زده کوونکو ! ووایاست چې لاندې کلمې دڅوتورو څخه جوړې شوي دي

۱- کوښښ ، مثلاً : ک ، و ، ښ ، ښ

۲- انسانان
۳- پلار
٤- کښته
٥- نړیار
٦- کلی

لاندې خالي ځایونه ډک کړئ !

۱- څوک چې (.....) بریالی کیږي .
۲- مورمود (.....) کار، پلارمود (.....) کار کوي .
۳- نړه پوهیږم چې په خپلو (.....) کوښښ کړی دی .
٤- بې کوښښه (.....) ګټه نه لري .

محترم ښوونکی دې د غه بیت د شاګردانو په ژبه معنی او تشریح کړي .

بې زحمته راحت نشته زما وروره
که راحت غواړې زحمت درلره بویه

د زده کوونکي پلارته د ښوونکي ليک

محترما :

ستاسي د قدردانۍ څخه ډېره مننه کوم ، ستاسي له نرۍ څخه هم خوښ اوراضي يم ، ځکه چې په يو ليک اولوست کښې بې پروايي اولتې نه کوي ، له خپلو درسونو سره خورا زياته مينه لري ، په ټولګي او ښوونځي کې يې ناسته ولاړه هم د ستاينې وړ ده .

ښکاري چې تاسي پرې هم په کور کښې ډېر پام لرئ . که تاسي غوندې پلرونه د خپلو اولادونو روزنې

او اخلاقو ته پام ولري ، نو زمونږه خواري به هم ډېر ځای وينسي ، هېواد به موسمسور، او ټولنه به مو خوشاله وي .

خوکه زامن يواځې د اُستاذ ، او بنوونځي بنووني او روزنې ته پرېښودل شي ، په ټوله پوري نتيجه به ترې ښه ځکه ترلاسه نه شي چې د يوه لاسه ټک نه خيژي . بنايي د بنوونځي د بنوونکي او د شاګردانو د پلرونو ترمنځ کډه همکاري او مرسته وي ، زه پاڼه يم چې تاسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه په دې خبره ښه پوهېږئ .

خدای جَلَّ جَلَالُهُ دې ستاسې زوی ستا په ژوند د علم او اخلاقو په ډګر بنکلی کړي .

د بنوونکی له خوا

نېټه / / ۱۳۶۵

نعت

په مرسلانو کښې زمونږ نبي ﷺ ډېر ښکلی دی زړه مې پرې بایللی دی
حُمه مدینې ته

په مرسلانو کښې سردار یې په درقبول د کردګار یې
زمونږ د ټول اُمت غمخوار یې

مایې صفت په کتابونو کښې لوستلی دی زړه مې پرې بایللی دی
حُمه مدینې ته

د پاک الله په درقبول دی دومره ښایسته زمونږ رسول دی
په انبیاوو کښې مقبول دی

شپه د معراج کښې د الله دیدار ته تللی دی زړه مې پرې بایللی دی
حُمه مدینې ته

ګرانو زده کوونکو !

پورتنی درس په ښه خط په خپلو کتابچو کښې ولیکئ .

ښوونکی صاحب دې د نوزو لیکونو ترتیب په لنډو اوساده الفاظو سره ـ شاګردانو ته وښیئ .

مثلاً : ملګري ته لیک اونور .....

بناغلی ښوونکی دې د زده کوونکو د پلرونو سره د لیک په وسیله تل په تماس کښې وي چې د دوئ د ګډې همکارئ په واسطه د زده کوونکو تعلیمي سویه ښه اوده وګرځي .

ټوکه

یوې ګیدړې کاغذ پیدا کړې ؤ ، نورو ګیدړانو ته یې وویل چې : د هغه باغ قباله مې اخیستې ده ، راځئ چې هلته په انګورو پسې لاړشو .

ټول په ګډه لاړل ، او باغ ته ورننوتل . ګیدړه پر دیوال کښیناسته ، او نورو ګیدړانو د انګورو په خوړلو پیل وکړ .

باغوان راغی ، دروازه یې وټرله ، او ډکید ړانوپه وهلوپې شروع وکړه . نورو ګیدړانوا نوهغې ښلې ګیدړې ته غږ کړ چې : قباله دې څه کړه ؟

هغې وویل : قباله داده خو پرچا یې منې .

قباله : هغه رسمي یا عرفي لیک دی چې د ځمکې خرڅونکي پکښې د شاهدانو په حضور د ځمکې د خرڅولو اقرار کوي . او اخیستونکي ته یې ورکوي .

ګرانو زده کوونکو !

۱- که کومه ټوکه مو یاده وی ، د ټولګي مخې ته را شئ . او چې لو ټولګیوالو ته یې ووایاست .

۲- پورتنۍ ټوکه لومړی د یوکۍ پر تخته څو واړې ولیکئ ، او بیا یې په خپلو کتابچو کښې ولیکئ

نوروز او بودا

نوروز یو زوړ بودا سړی ولید چې کود کوړوان ؤ. نوروز ورواندې شو، سلام یې پرې واچاوه او پوښتنه یې ځنې وکړه، بابا پرېښه موخه شوې دي؟

بودا سړي ورته وویل بچیه: زه ډېر کوچنی ؤم چې یوه ورځ د مینو وني ته وختم، مینې مې راشکولې، پریوه نری څانګه ولاړ ؤم، څانګه ماته شوه راولوېدم پښه مې ماته شوه، له هماغه راهیسې کودیم.

نوروز وویل: زموږ په کور کښې د مینې ونه ده. زه هروخت وني ته خېژم مګر هیڅکله نه یم لوېدلی.

سپین بزیري وویل: بنه دی مګر هوښ کوه چې د وني

پر نړیو څانګو باندې پښې کښېنږدې ، چې تر هم زما په شان راونه لوېږي .

نوروز وخندل او هېڅ يې ونه ويل . کورته چې راغی څپلی يې وکښلې ، او وينې ته وخوت چې مېنې وشکوي خو لاس يې مېنې ته نه رسېد ، نولږلږ پورته وخوت او د وينې نړیو څانګو ته يې لاس وغځاوه ، ناڅاپه څانګه ماته شوه او نوروز پرځمکه لاندې راپرېوت ، پښه يې ماته شوه . هغه ژړا چې نوروزله ځانه سره وويل :

که هغه د سپين ږيرې خبره مې منلې واى په دې بده ورځ به نه واى اخته شوى .

ګرانو زده کوونکو !

لاندې کلمې خوځلې دليک پرتخته مشق کړئ :

۱- بوډا ولې ګوډ ګوډ ته ؟

۲- بوډا نوروز ته څه وويل ؟

۳- نوروز ولې له وتې څخه راولويد ؟

ګرانو زده کوونکو !

که په تاسو کښې کوم شاګرد ګوډ وي ، نورو شاګردانو ته دې څېله واقعه ووايې .

لغات	=	معنی
هوښ کوه	=	پام کوه ، فکر کوه
څانګه	=	بناخ
وغزاوه	=	اوبه دکړه

محترم ښوونکی دې پورتنی درس د قصې په شکل زده کوونکو ته تکرار کړي .

ترانه

تل اسلام سمسور غواړو

مینه محبت لرو

ښه لوړ شهامت لرو

اسلامي وحدت لرو

دا زمونږ هدف دی په نړۍ کښې اسلام خپور غواړو

تل اسلام سمسور غواړو

مونږ ه اسلامي وروڼه

د پرزیات صمیمي وروڼه

مونږ یو حقیقي وروڼه

څو د ننګ ډګرته په د بنمن باندې خپل زور غواړو
تل اسلام سمسور غواړو

په حقه لار روان یو
پیرو د پاک قرآن یو
د بنمن باندې زمریان یو
دا نګو سنګروته په جهان د بنمن نسکور غواړو
تل اسلام سمسور غواړو

آزاد به خپل وطن کړو
سمسور به خپل ګلشن کړو
بنائسته به خپل چمن کړو
دا زمونږ آرزو ده چې بې دین خلک مخ تور غواړو -
تل اسلام سمسور غواړو

پلارته دزړی لیک

زما مهربانه پلاره !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :

درې ورځې دمخه موليک راورسيد . شکر دی چې له وروڼو سره مې ټول ړوغ ياست .

مور مې دلالا له خوا پريشانه وه ، هروخت يې ياداوه او ويل به يې چې لالا دې دخپل پلار سره د دښمن مقابلې تهٔ تللی دی ، اوهيڅ احوال يې نه راځي . زه او ټوله کورنۍ ستاسې دليک په لاسرسيدو خوشحاله شو ، ډېرخوښ يم چې لالا مې ستاسې تر څنګ په ډېره ميړانه ملاتړلې ، اودوطن د آزادی

لپاره د دښمن سره په نړه مقابله کوي .
د ټولو مجاهدو وروڼو بری اوکامیابي له لوی خدای (ج)
څخه غـــواړم .

په کورکښې خیراوخیریت دی ، خاطرجمع اوسئ.
لکه چې وعده موکړې وه چې یوه هفته وروسترراځئ
په خیرراشئ ، خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) مو د ټولو غازیانو
وروڼو سره بریالي لره . (امین)

وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

ستاسې نړۍ " ذاکر"

نیټه / / ۱۳۶۵

لغات	معنیٰ
مرسلان	د رسول جمع ده ، او رسول استاذ ته وایي . یعني مرسلان (استاذي)
مدینه	په عربستان کښي یو بنار دی چې رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) مزار پکښې دی .
اُمّت	ډله
انبیاء	د نبي جمع ده ، او نبي ، خبر ورکوونکی ته وایي .
معراج	لوړوالی
نعت	د پیغمبر (ص) صفت

کرانو زده کوونکو !

۱ - پورته لغات په یاد وزده کړئ .

۲ - له لاندې کلمو څخه جملې جوړې کړئ

قبول ، اُمّت ، معراج ، ټول ، صفت ، بنایسته .

بناغلی بنوونکی دې هربیت زده کوونکو ته معنیٰ او تشریح کړي .

لغات	=	معنیٰ
مکتوب	=	لیك
پریشانه	=	خفه
میړانه	=	زړورتیا

ښوونکی صاحب دپه د دې لیك په شان نورلیکونه هم زده کوونکو ته ورزده کړي ۰

بسم الله الرحمن الرحیم

د نارو غی رقعه

بناغلی سرمدرس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه فرمان الله د دریم تولگی زده کوونکی نن (یکشنبه)

به بر نارو غ یم ، بنوونځی ته نشم درتلای ،

تاسوته مې خبر درکړم چې ناسوب نه شم . په درنښت

د فرمان الله له خوا

نښته / /

گرانو زده کوونکو !

پورتنۍ رقعه په خپلو کتابچو کښې په ښه خط ولیکئ ، او په توره دره یې خوواره مشق اوتمرین کړئ .

بسم الله الرحمن الرحيم ط

د ضرورت رقعه

بنا غلی سر بنوونکی صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن (چهارشنبه) د یوه راپیښ شوي ضرورت له امله - بنوونځي ته نه شم درتلای .

تاسي ته مي خبر درکړ چي ناسوب مي ونه کړئ .

په احترام

(لطف الله د دریم ټولګي زده کوونکی)

نیټه / /

۱- گرانو زده کوونکو ! دا رقعې په خپلو کتابچو کښې ولیکئ .

۲- محترم بنوونکی د ې پر زده کوونکو نورې رقعې هم ولیکي .

متلونه

۱- خپل عمل دلاري مل دی .

۲- چې څه کړي ، هغه به ړېږي .

۳- څړنده که د پلاړده ، هم په واړده .

۴- چې اوسې ، په خوی به د هغو وسې .

۵- له یولاس څخه تک نه خېژي .

۶- په یوه ګل نه پسرلی کېږي .

۷- مارته په لستوڼي کښې ځای مه ورکوه .

۸- خپله ژبه هم ګلاده ، هم بلا .

ګرانو زده کوونکو ! پورته متلونه په یاد ونړده کړئ ، او په کتابچو کښې یې ولیکئ .

بناغلی ښوونکی دې د پورته متلونو د استعمال ځایونه زده کوونکو ته وښئ .

باران

یو ډیک راواخلئ ، اوبه پکښې واچوئ . او په اور
ږپ کیږدئ . څو دقیقې وروسته وګورئ چې د ډیک
د اوبو یوه برخه بخار کیږي او هوا ته ځي .
بیا نو پر ډیک باندې برغولی کښیږدئ ، اولږه شیبه
وروسته بیا د ډیک سر پورته کړئ .
وبه ګورئ چې د ډیک له سرپوښ نه د اوبو څاڅکي
د باران په شان راتویږ شي .
دا ساده تجربه راښئ چې خدای تعالی په خپل کامل او
بشپړ قدرت سره په اوبو کښې یو ډول خاصیت ایښی
دی چې و ایشیږي ، په بخار بدلیږي .

باران هم داسې جوړيږي .

د ځمکې نه چې کوم براس (بخار) پورته کيږي ، هغه د هوا له سړې برخې سره په مخامخ يو په څاڅکيو بدليږي ، او له پاسه نرمکې ته د باران په شکل راوري .

ګرانو زده کوونکو !

د غه تجربه په کورکښې وکړئ

۱- بناغلی ښوونکی دې د غه تجربه په ټولګی کښې زده کوونکو ته وښيئ.

۲- ښوونکی دې پورته درس د املاء په ډول زده کوونکو ته ووايي .

د څښلو اوبه

اوبه د ټولو ساکښواو ژوندیو شیانو د ژوند یو مهم سبب دی . له همدې امله پاک خدای ﷻ په قرآن کریم کښې فرمایي : « هرڅه موږ په اوبو سره ژوندي کړي دي . »

د اوبو له دومره اهمیت سره سره هرډول اوبه زمونږ د څښاک لپاره ښې نه دي ، اوږه کارده چې ترڅښلو دمخه یې وپېژنو ، چې پاکې دي که ناپاکې ؟

څکه ناپاکې اوبه خړې اوبه بدن ته دکتې پرځای زیان رسوي

ناپاکې او ناولې اوبه وجود ته هغه مکروبونه ننباسي چې ډول ډول ناروغي ترې پیدا کېږي لکه : ټس خوږی ،

پېچش او نس ناسته ....

د څښلوپاره د نل اوبه ښې وي . په کوموځایو کښې چې د نل اوبه نه وي ، ښه داده چې د هغې څاه اوبه وڅښل شي چې سرې پټ وي ، ځکه د سر پټې څاه اوبه رڼې اوکټورې وي .

د هغوې نه ونو اوبه هم د څښلو وړنه دي چې د اوبو د وتلو لار نه لري ، ځکه ولاړې اوبه د ډول ډول مکروبونو موریښه وي .

که نورې اوبه پیدا نه شي ، او څښلو ته يې مجبور شئ نو لومړی يې بايد وايشوئ ، سړې يې کړئ او ويې څښئ . که د څښلو اوبه له ويالې څخه راوړئ ، بايد سهار د وخته تر لمر ختو دمخه يې راواخلئ ، او منکې

ترې ډک کړئ ، ځکه ترلمرختو وروسته اوبه د انسانانو او حیواناتو د کارونو او ټنک راتنک په سبب ناپاکې شي .

ځینې ناپوه هلکان د څارویو غونديې د ویالو اوبه په ملاسته څښي ، چې دا کارهم د روغتیا او هم د ادب له پلوه بد دی .

یوه ورځ اشرف د ویالې پر غاړه پرمخې پریوت ، د څاروې غونديې اوبه څښلې چې څوره یې له اوبو سره تیره شوه ، هرځومره کوښښ یې چې وکړی څوره راونه وتر اشرف دومره وېرې واخیست چې تردیره نا روغه پروت وُ .

پلار یې چې خبر شو ، له واړه یې ډاکټر ته بوت . ډاکټر په خورا زحمت او مهارت پخپلو بیخونو او ستنو

سره شوره د اشرف له خولې څخه راوايسته .
پس له دې اشرف توبه وکښله چې بيا به په دې ډول اوبه نه چښي .

پوښتنې

۱- د انسان د روغتيا لپاره کومې اوبه ضرر لري ؟
۲- هغه هلکان چې د اوبو په څښلوکښې احتياط نکوي ، په کوم مرض اخته کېږي .
۳- کومې اوبه د روغتيا لپاره ګټورې دي .

ګرانو زده کوونکو !

يوتن د ټولګي مخې ته راشئ ، او داشرف د اوبو څښلو قصه خپلو ټولګيوالو ته بيان کړئ .

قرآن کریم



قرآن کریم د الله جَلَّ جَلَالُهُ کتاب دی ، او پر محمّد صَلَّی اللهُ علیه وآلِهِ وَسَلَّمَ د جبرائیل عَلَیْهِ السَّلام په واسطه نازل شوی دی .

قرآن کریم د پرش پاریې او یو سلو څوارلس سورتونه لري . قرآن کریم الله ﷻ د انسانانو د لارښوونې لپاره زاليږلی دی . مسلمانان پر قرآن کریم ایمان او باور لري .

د قرآن کریم تلاوت ډېر ثواب لري . ټولو مسلمانانو ته لازم دي چې د قرآن کریم تلاوت وکړي ، دا ځکه

بناغلی ښوونکی دې له شاګردانو څخه لاندې پوښتنې وکړي !

الف : کوم شاګردان په کلي کښې چینه لري ؟

ب : کوم شاګردان د ویالې اوبر چښي ؟

ج : د اوبو ایشول روغتیا ته څه ګټه لري ؟

محترم ښوونکی د ې د ساري نا روغتیا په باره کښې شاګردان وپوهوي .

کرنه

زمونږ کران وطن افغانستان یو زراعتي مملکت دی.
زمونږ د وطن ډیر وګړي بزګري کوي .
کرنه او بزګري ډیرښه کار دی . بزګران ځمکې ایوې
کوي ، دا کار درې ګټې لري :
لومړی : مځکه پسته کیږي .
دوهم : مځکه لاندې اوباندې شي ، لمریې ووهي او
قوّت مومي .
دریم : خود رویه وابنه او نور نباتات د خاورو څخه
راووزي ، اووچ شي . په مني مځکه د کرنې د پاره
جوړه کړي ، او تُخم په کښې وشیندي ، بیایې

ماله کړي ، څومځکه هواره او د اوبولوپه وخت کښې د ځمکې ټولې برخې اوبه شي .

په هغو ځایوکښې چې زیاتې جاري اوبه لري ، نو بزګر هروخت چې وغواړي ځمکې ته اوبه ورکولای شي . مګر په هغوځایوکښې چې ډېرې اوبه نه لري نو بزګران د باران وریدو ته ستړکې په لاره وي .

دوبی د لوړ وخت دی ، هرکله چې لوړ تمام شي ، غنم اوورښې درمنده کړي ، درمند د څپر په واسطه میده او بیا یې باد کړي .

کله چې درمنده تیار اوغنم پاک شي ، بزګران یې کورو ته وړي .

بزګران د درمنده څخه د یو کال د خوراک غله اود ځمکې

د تُخم په اندازه تُخم سايۍ ، او نورې خرڅوي ، او په پيسوې نورې اړتياوې برابروي .

د هر بزګر تولې اړتياوې د کرنې په واسطه پوره کيږي .

لغات	=	معنىٰ
وګړي	=	خلک
نباتات	=	ګياوې
اِيوه	=	قلبه
اړتياوې	=	احتياجات

پوښتنې

۱- د پټې شوديا ره کول څه ګټه لري ؟

۲- د بزګرۍ د سامان نومونه ووايئ ؟

۳- تاسې پخپلو پټو کښې څه شی کړئ ؟

٤- غنم په کوم ولایت کښې پیدا کیږي ؟

٥- څوکې په کوم ولایت کښې ډیر کیږی ؟

٦- وریجې په کوم ولایت کښی زیاتې کرل کیږي ؟

۷- ستاسو پهکلیو کښې باغونه شته دی ؟

۸- په باغونو کښې د کومو میوو بوټي لرئ ؟

باغ

د باغونو جوړول او پالنه هغر شتمني ده چې يواځې د باغ خاوند ترې ګټه نه اخلي ، بلکه هر څوک ترې ګټور کيږي لکه :

د باغونو په پالنه پر مېوو سربېره د شاوخوا هوا پاکه او خوشبويه کيږي ، د سون د سوځولو لرګي ترې لاس ته راځي .

له مېوو نر يې انسانان او مرغان يو شان ګټه اخلي . له ګلونو نه يې د شاتو مچۍ خوږه شيره وباسي او شات

تړې جوړوي .

هوښیار باغوانان (بهوالان) په کښې د هرموسم لپاره ګلونه او سابه کړي . د میوو پر وخت تړې میوې بنار او بازار ته وړي .

د ګلونو په موسم کښې ګلونه غُنچې کوي ، او ګلفروشیو ته یې وړي ، اودسبو په وخت تړې سابه خرڅوي .

تاسې هم کوښښ وکړئ چې په کلي ، ولس کښې د میوه یې (میوه دارو ونو) سبو او ګلونو کر او روزنه زیاته کړئ .

که غواړئ چې د ښوونځئ د درسونو د زده کړې لپاره ښه ځای پیدا کړئ ، همدغسې باغونو ته

ورشئ ، خوپامرکوئ چې ونواوګلونو ته نږدې ونږ رسوئ ، اواومه میوه مه شکوئ . ځکه اومه میوه د کتې پر ځای بدن ته نږدې رسوي ، اوپر ډول ډول ناروغيو مواخته کوي .

پوښتنې

۱- په باغ کښې د څه شي ونې کرل کيږي ؟

۲- په باغ کښې د ګلانو کرل څه ګټه لري ؟

۳- د خامې میوې خوړل بدن ته څه تاوان لري ؟

٤- ستاسو په باغونو کښې د کومو میوو ونې شته دی ؟

۵- که باغ ته په خپل وخت اوبه ونه ورسيږي ، ونو ته څه تاوان ورسيږي ؟

کرانو زده کوونکو !

لاندې جمله څوځلې د لیک پر تخته مشق کړئ ، او بیا یې پخپلو کتابچو کښې ولیکئ:

څرنګه چې خامه میوه د بدن روغتیا ته ضرر رسوي نو باید له باغونو خامې میوې و نه شکوئ .

دعا

لویه خدایه دا سوالونه موقبول کړې
مسلمان امت په خپل درکښې مقبول کړې

د وحدت مینه پیدا کړې مسلمان کښې
لکه تاچې فرمایلې په قرآن کښې

مؤمنانو باندې خپل رحم کرم کړې
کافرانو باندې جوړ هرځای ماتم کړې

هر مسلم کښې د جهاد جذبه پیدا کړې
د دښمن پرځونه جوړه واویلا کړې

هر مؤمن په خپل مقصد باندې کامیاب کړې
د طاغوت قافله غرقه په سیلاب کړې

چې د قرآن کریم تلاوت د سترګو دید هم زیاتوي .

لغات	معنی
جبرائیل ع	د الله ج ، نږدې ملایکه چې الله له لوري یې پیغمبرانو ته خبرې اوروي
تلاوت	د قرآن کریم لوستل

پوښتنې

۱- قرآن کریم پر چا نازل شوی دی ؟

۲- قران کریم څوپارې ، اوځو سورتونه لري ؟

۳- قرآن د چا په واسطه نازل شوی دی ؟

۴- الله جلّ جلاله قرآن کریم د چا د لار ښوونې لپاره رالیږلی دی ؟

لاندې پوښتنې باید د زده کوونکو ترمنځ تکرار شي !

یو زده کوونکی په ټولګي کښې ودریږي اود بل څخه پوښتنې کوي :

مجاهد باندې نظر د رحمت وکړې
د اسلام د سنګر وحمایت وکړې

بندګۍ او عبادت کښې همت غواړو
د دښمن مقابله کښې نصرت غواړو

لغات	=	معنیٰ
وحدت	=	یووالی
ماتم	=	غم
واویلا	=	ویر
طاغوت	=	شیطان
قافله	=	جوپړ، کاروان
حمایت	=	ساتنه
نصرت	=	مرسته، کومک

۱- آیا ته قرآن کریم لولې ؟
۲- ولې قرآن کریم لولې ؟
۳- څه وخت قرآن کریم لولې ؟
۴- آیا د قرآن کریم په معنیٰ هم پوهیږې ؟
۵- ته هره ورځ څومره قرآن کریم لولې ؟

بناغلی ښوونکی دې د پوښتنو په کولو کښې دزده کوونکو سره مرسته وکړي .

بنه خوی

د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم وینا ده چې: د قیامت په ورځ ترټولو درونـد شی د میزان په تله کښې بنـه خوی دی .

زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم بل ځای داسې فرمایي : "د بشپړ ایمان خاوند هغه څوک دی چې اخلاق یې ترټولو بنـه وي ."

صادق د مدرسې د دریم ټولګي زده کوونکی او د نیکو اخلاقو خاوند دی .

د لمانځه لپاره جومات ته ځي ، د ناروغانو پوښتنه کوي ، د بنوونکي او نورو مشرانو خبرې مني او ادب یې

کوي . د خپلوانو، کاونډ يانو او ټولګيوالو سره په هره مينه ژوند تيروي اوله موروپلار سره په کارونو کښې مرسته کوي ، نوځکه د مدرسې ټول شاګردان او د کلي اوسيدونکي له صادق نه خوښ دي ، او په درنه سترګه ورته ګوري .

يو مثل دی :

بنه خوی به دې پاچا کړي
بدخوی به دې ګدا کړي

لغات	=	معنیٰ
ميزان	=	تله
اخلاق	=	خويونه
مرسته	=	کومک

AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE

اِقرَاء...

پښتو لوست

د دريم ټولګي لپاره

کال: ۱۳۶۵ - ه.ش

پښتو لوست

د دريم ټولګي لپاره

کال ۱۳۶۵ هـ ش

مؤلفين :

انجنير مطيع الله ، محمد اياز « ملنګيار »

سيد عيسىٰ « نيکمل » او سرمعلم محمد کلاب

مشورتي غړي :

باطن شاه « صافی » او روښه کل « وحدتي »

د دریم ټولګي د پښتو کتاب مضامینو فهرست

ګڼه	عنوان	مخ
۱	حمد	۱
۲	نعت	۳
۳	قرآن کریم	۵
٤	ښه خوی	۸
۵	علم	۱۱
٦	د خبرو اد بونه	۱٤
۷	زموږ ښه مدرسه	۱٦
۸	نصیحتونه	۱۸
۹	ښه هلک	۱۹
۱۰	پر حیوانانو رحم کول	۲۱
۱۱	روغتیا ساتنه	۲۵

ګڼه	عنوان	مخ
۱۲	د مرغۍ خاله	۲۸
۱۳	د وطن مینه	۳۰
۱٤	حضرت فاطمه (رض)	۳۲
۱۵	کوښښ	۳۵
۱٦	د زده کوونکي پلارته د ښوونکي لیک	۳۸
۱۷	ټوکه	٤۱
۱۸	نوروز او بوډا	٤۳
۱۹	ترانه	٤٦
۲۰	پلارته د زوی لیک	٤۸
۲۱	د نارۍ رقعه	۵۱
۲۲	د ضرورت رقعه	۵۲
۲۳	متلونه	۵۳
۲٤	باران	۵٤
۲۵	د څښلو اوبه	۵٦
۲٦	کرنه	٦۱
۲۷	باغ	٦۵
۲۸	دعا	٦۹